نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۰۸/۳۰

# د تکنوکراتو نظام، زندانونه یا غچ اخیستنې

تر قبل المیلاد مخکې کلونو کې د ټولنې منځ کې هغه څوک چې په جرم متهم وو، دهغه څخه د سوال کولو اړتیا نه



وه، بلکې هغه انسان چې د جرم تور به پرې وو، هغه ته سختې سزاوې ورکول کیدې، د پخوانې مصر او روم خلکو ګروه داوه چې جرم کول تقدیري مسئله ده، په دې عقیده وو چې مجرم یو بدذاتی او خبیثه روح یې په وجود کې حلول کړی.

۱۶ قرن څخه تر ۱۹ قرن پورې خبره دومره وه چې د مجرم په اړه سوال پیداکیدی، فکر کیدی، چې دجرم لامل به کوم څه وو، په ۲۰ قرن کې بیا نړیوالو حقوق پوهانو په دې اړه نظریات ورکړل چې ډیر مهم یې: د درنو سزاو څخه مخنیوې، د مجرمینو د اصلاح اړوند جزایي قوانینو کې تعدیل، بندیانو ته مشروط ازادي ورکول، د مجازاتو اجراء د انتقام څخه اصلاحي بنې ته اړول، د درنو سزاو د علمي کولو څخه ډډه او پرځای یې امنیتي تدابیر زیاتول وو.

پخوا زمانو کې د زورواکو لخوا په ځینو مواردو کې سزاوې په یوه بشپړ قوم هم عملي شوې، او په یوه سیمه هم شوې، دا ډول د محمد (ص) په وخت کې هم په مکه مکرمه کې د هغه په کورنۍ د ردو کلونو لپاره د مشرکینو له خوا هر ډول راکړه ورکړه او تګ راتګ باندې بندیز و، او شعب ابی طالب سیمه کې ګوښې ژوند کولو ته مجبور شوې وو.

په افغانستان باندې د بېلابېلو تاړاکونو په وخت کې عام وژنه او ډلئیزه وژنې شوې، د چنګیزیانو، مغولو، انګریزانو، روسانو او امریکایانو د حملو په وخت کې داسې ډیرې بېلګې لرو.

په ټوله نړۍ کې وضع شوې قوانین اوسمهال جرم فردي ګڼې، یواځې ستونزه د مجرم شخص سره حل کول غواړي، د مجرم فرد له کبله دهغه کورنۍ او یا د ټولنې نورو وګړو ته زیان رسول د قانون خلاف ګڼل کیږي.

اسلامي قوانین په دې برخه کې ډیر زیات وضاحت لري، د مجرم ورور، پلار او یا میرمنې په عوض کې بل څوک د جزا مستحق نشي ګڼل کیدای.

تر ګردو مهمه داده چې د جرم انګیزه او لاملونه په نښه شي، ولې په ټولنه کې خلک جرم کوي، فردي جرمونه او اجتماعي جرمونه دا فرق لري، کله چې خبره اجتماعي جرمونو ته ورسیدله بیا حکومتونه او اولو الامر مکلف دي چې په اړه یې غور او څیړنه وکړي.

که لږ نور هم موږ په ساده اصطلاح د خپل هیواد په کچه موضوعات وڅیړو، نو یو لوری چې ځان د قانون پلي کوونکې ګڼي او حکومت دی، بل لورته د دوی مقابل کې د ولس لوی اکثریت د عدل او حقونو غوښتنه کوي، حکومت

همدي خلکو ته مجرمين، ياغيان او باغيان وايي او همدا خلک بيا وايي چې ملامت حکومت دي چي ددوی حقونه يې سلب کړي دي، دلته بيا موږ په دي برخه کې باید له احتیاط څخه کار واخلو، تر څو حقیقت ومومو او پوه شو چې کوم لوری مجرم کوم لوری پر حق دی، ځکه ټولنه له وګړو څخه جوړه ده، او داجتماع اکثریت مطلق په جرمونو باندي توافق نه شي کولای.

د حکومتونو او چاراوکو په خلاف د خلکو د پاڅون لاملونه تر ډیره عقیدوي، نظریاتي، اقتصادي او کلتوري ارزښتونه، دا ډول غیر عادلانه نظامونه کیدای شي.

## د روسانو او د هغوی د پلويانو سره د جهاد پر مهال د بنديانو زجر او تبادله

روس پلوه د خلقيانو او پرچميانو حکومتونو په زندانو کې د مسلمانو افغانانو سره له حده زيات ظلمونه وکړل، د هغوی د شکنجو اړوند ډير څه ليکل شوي، د نوکانو ايستل، برقي شارټونه، په ژوندون تر خاورو لاندي کول او نور تعذيبونه.

ولي له يادو ظلمونو سره سره د بنديانو تبادله په ځينو مواردو کې د کورنيو افغانانو ترمنځ او ځيني وختونه بندي مجاهدين له روسانو سره تبادله شوي دي.

هيڅکله د بنديانو تبادله په ټپه نه وه دريدلي، که په مرکزي کچه کله داسي قوانين رامنځته کيدل چې د بنديانو تبادله خنډنی او ځنډنی شي، مګر په سيمئيزه کچه دغه ډول کړنو جريان درلود.

د تره کي، حفيظ الله امين او ببرک کارمل په وختونو کې د بنديانود کورنيو د پاخه عمر خپلوانو له بنديانو څخه ليدني کولي، او د بنديانو احوال ورکول کيدی، حفيظ الله امين، تره کی او ببرک کارمل چې ډيری مسلمان افغانان يې تر تيغ تير کړل، کله هم داسي نه دي شوي چې بنديانو ته د ټول عمر لپاره د خپلوانو په ورتګ بنديز لګيدلی وي.

او د ډاکټر نجيب الله د حکومت پرمهال د بنديانو سره فوق العاده په رويه کې اصلاحات او ښه والي راغی، په هغه وخت کې بنديان له سختو شکنجو څخه تر ډيره مصؤن وو، دا بيا بيله خبره ده چې کله ډاکټر نجيب الله د خاد (استخباراتو) مشر وو، چې په هغه وخت کې يې ډير افغانان شهيدان کړي.

## د مجاهدينو د خپلمنځي جګړو په وخت کې د بنديانو تبادله

اوه ګوني ګوندونو په بېلابېلو وختونو کې د يو او بل ګوند اړوند مجاهدين د جګړي او يا تاوتريخوالي پرمهال نيول او بنديانول يې، دغه پيښې په شمال کې د جمعيت اسلامي (شورا ی نظار) او حزب اسلامي، په جنوب کې د حرکت انقلاب اسلامي او حزب اسلامي د مجاهدينو ترمنځ ډير ځله ليدل شوي دي.

ډيری کمي داسي بيلګي شته چې بنديان دي په عمدي ډول سره وژل شوي وي، هڅه کيده چې د بنديانو تبادله د مخالفو جبهاتو د مجاهدينو ترمنځ صورت ونيسي، په هلمند ولايت کې يو ځل د ملامحمد نسيم ورور ملامحمد رسول اخوند د حزب اسلامي ډيری مجاهدين او قومندانان ژوندي ونيول، چې زموږ د کلي يو د ټيټي کچې قومندان هم په بنديانو کې ورسره وو، مګر د مذاکراتو او خبرو په جريان کې هغوی خوشي شول.

د حزب اسلامي او جمعيت اسلامي ډلو د بنديانو تبادله په سميئيزه کچه هم کيدله، او تر ډيره له بنديانو سره له ناوړه سلوک څخه ډډه کيدله.

## د طالبانو او مسعود ترمنځ د بنديانو تبادله

د طالبانو لخوا د ګوندونو له پخوانیو مجاهدینو (وسلوالو) سره د جګړو پرمهال تر ډېره کوشش کیدی چې بندیان ونه وژل شي، ممکن ځیني استثنایي موارد به وي، لکه د تورن اسماعیل خان سره د طالبانو هغه جګړه چې لومړی ځل طالبانو شکست وخوړي، درنه مرګ ژوبله یې ولیدله، او ددوی کسان د تورن اسماعیل خان د وسلوالو لخوا ډیر زیات ووژل شول، حتی په دښتو کې پاتي شوي زخمیان هم. دا ډول کله چې دویم ځل بیا طالبانو د تورن اسماعیل خان پر وسلوالو برید وکړ، او هغوی شکست وخوړی، ورته پیښي د طالبانو له خوا د ځینو راپورونو پر اساس شوي دي.

کله چې طالبانو کابل ونیوی، او جګړه شمال ولایتونو ته وغزیده، د شمالي ټلوالي مشرتوب د احمدشاه مسعود په غاړه وو، د بندیانو تبادله وخت په وخت کیدله، په څو میاشتو کې د بندیانو تبادلي صورت موندی، اسیران یوې او بلې خوا نه وژل.

د بندیانو د تداوي او په ځینو مواردو کې د غذاء برابرولو لپاره دواړو خواوو خپل کمیسونونه د مقابل طرف په سیمو کې درلودل، د طالبانو د بندیانو د کمیسون غړو پنجشیر ته تګ راتګ کاوو، او د خپلو بندیانو له احوال څخه یې ځان خبراوو، دا ډول د احمدشاه مسعود کسانو د طالبانو تر کنټرول لاندي سیمو کې د خپلو بندیانو څخه لیدني کولي، د تبادلي لستونه هم له زندانو څخه تر لیدو وروسته د دواړو لورو په موافقه صورت موندی.

زما په آند دا یو ښه کار وو، په جګړه کې د نیول شوو بندیانو ژوند مصؤن وو، ولي په ځینو خاصو مواردو کې داسي راپورونه هم ورکول شوي چې د مخاصمو لورو لخوا د جګړې په ډګر کې زخمیان وژل شوي، چې دا ډیر کم پیښ شوي.

په مزار، جوزجان او سرپل کې چې د جنرال مالک او دوستم د کسانو لخوا په شمال کې بند پاتي تر لسو زرو زیات طالبان ووژل شول، پخوانیو کمونستانو داکار وکړ، چې د اهل تشیع ځیني ډلې هم ورسره ملګرې وي، بیا دویم ځل چې طالبانو مزار ښار او یاد ښارونه ونیول، ویل کیږي چې دوی هم دریغ ونه کړ، ولي شمیر به یې کله هم د مالک او دوستم لخوا د وژل شوو طالبانو حد ته ونه رسیږي.

### د کرزي د حکومت او طالبانو ترمنځ د بندیانو تبادله

د کرزي د حکومت په لومړیو کلونو کې دوه ډوله بندیان وو، په اصل کې د طالب په نوم د بندیانو دوسیې ګرده د امریکایي محققینو او جاسوسانو لخوا څیړل کیدی، مطلوب بندیان یې د کندهار هوایي ډګر او باګرام زندانو کې ساتل او ځیني ډیر مطلوب یې ګوانتانامو زندان ته انتقالول، د ټیټي کچې متهم بندیان یې افغان حکومت ته سپارل.

د کرزي دحکومت په لومړیو وختونو کې سخته وه چې دهغو بندیانو له حاله چې د امریکایانو په خپلو زندانو (باګرام، کندهار هوایي ډګر او ګوانتانامو )کې وو، دهغوی له حال احواله دي دهغوی د کورنی غړي خبر شي. کلونه کلونه وروسته بیا لږ سهولتونه راغلل، د بندیانو د کورنیو غړو ته د سور صلیب د استازو په توسط یواځي پر ټلیفون او یا سکایپ د خپلو بندیانو سره د خبرو کولو سهولت مهیا کیدی، او بیا په وروسته وخت کې باګرام ته له ډیرو هلوځلو او کوششو څخه وروسته د کورني غړي ۳ او یا ۵ دقیقي له خپل بندی سره د پنجرو ترشا لیدلای شوای.

د کرزي د حکومت پرمهال د بندیانو تبادله شوې، تر ټوله مهمه تبادله د ایټالوي ډانیلي (۲۰۰۷، اپریل میاشت) په بدل کې د ملا دادالله منصور په شمول د ۴ نورو مهمو طالبانو له زندان څخه خوشي کول وو. ولي اجمل نقشبندي افغان خبریال د لوبې قرباني او سر یې له تنې څخه پري شو.

يوځل خبرونه خپاره شول چي ځيني عرب بنديان له باګرام زندان څخه تښتيدلي او په تيښته بريالي شوي هم دي، ولي ويل کيږي چي په پټه تبادله او تفاهم شوی وو.

کله چي کرزي دويم ځل په ۲۰۰۹ ز.کال کي تر جنجالي ټاکنو وروسته ولسمشر اعلان شو، د بنديانو لپاره پر دي خبره روانه وه چي د بنديانو څخه د ليدني کتني سهولتونه برابر شي، د ملګرو ملتونو استازو هم يکي ليوالتيا درلودله، نږدې وه چي هوکړه وشي چي طالبان به په کابل کي د بنديانو د ليدني او د هغوی له احوال څخه د خبر اخيستلو غير رسمي کميسون ولري، دا ډول به له طالبانو سره د دولتي بنديانو پوښتنه وخت په وخت دولتي مامورين کوي، او په ځينو مواردو کي به د تبادلي خبرې هم ممکن وي، ويل کيږي چي د تفاهم او هوکړي په وروستيو شيبو کي کرزي نټه وکړه او موافقه ونه شوه.

د بنديانو د خلاصون اړوند يو بل لوی پرمختګ د کرزي د حکومت پر مهال دا وشو چي په زرګونو د طالب په نوم متهم افغانان چې ډيری د جنوب، جنوب ختيځ او ختيځو ولايتونو څخه وو، د سولي شورا د ضمانت ليک په جوړولو سره خوشي شول.

امريکايانو هم له طالبانو سره مخامخ معامله وکړه، د امريکايي پوځي بندي بوبريګيدال په تبادله کي يې له ګوانتانامو څخه د طالبانو پنځه مهم مشران (ملاخيرالله خيرخواه، ملا محمد فاضل اخوند، ملااحمدالله وثيق، ملا نورالله نوري او حاجي محمدنبي عمري) خوشي کړل.

په وروستيو وختونو کي کرزي ويل چي باګرام د طالب جوړولو فابريکه ده، کله چي دلته بې ګناه کسان راوړل کيږي، زجر او شکنجه ويني، د هغه د کورنی غړي د غچ اخيستني په لټه کي کيږي، او تر خوشي کيدو وروسته خپله هم ډير سخت دريځه جنګيالی جوړيږي، تر ډيره د کرزي همدا خبره پرځای وه، ځکه د زندان د مسؤلينو د ناوړه چلند له کبله ډير وخت بنديانو د غچ اخيستلو هوډ به کړی وي.

داهم مهمه ده چي څيرنه وشي، هغه بنديان چي د طالبانو له بند څخه خوشي شوي، هغوی ولي بيرته د دولت جنګي ليکو ته نه ځي، او که تللي وي، يوه پرتله په کار ده، چي څومره سلنه خوشي شوي طالبانو او يا دولتي کسانو بيرته جګړو ته مخه کړي، او عامل يې څه دی.

د کرزي په وروستيو وختونو کي د هيواد په جنوبي ولايتونو کي چي امنيتي حالت ډير خراب شول، هلته د بنديانو سره ناوړه چلند پيل شو، د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو کميسونو پري راپورونه ورکړل، تر دي حده چي کله به هم وسلوال طالبان د جګړې په ډګر کي زخمي پاتي وو، او يا به په کوم چا له جګړې وروسته د طالب شک کيدی، هغه په همغه سيمه کي پرته له محکمي وژل کيدی.

په جګړه کي نيول شوې کسانو سره د شکنجو، زجر او مرګ سزا هغه وخت زياته شوه چي اربکيان د ډيويد پيټريوس د پلان سره سم په هيواد کي په وسلو او مهماتو تجهيز شول، بې حده زيات ظلمونه وشول او لاهم دا لړۍ روانه ده.

يوځل د کرزي د واکمنی پرمهال اويا کسه متهم طالبان په پټه د پلچرخي زندان کي اعدام شوو، بيا يې مړي د هغوی خپلوانو ته وسپارل شول.

ورته عکس العمل طالبانو وښود، د دولت ډيری نيول شوې کسان يې په بېلابېلو سيمو کي اعدام کړل. په لومړيو وختونو کي طالبانو چي کوم دولتي کسان نيول، ځيني يې وژل، د بنديانو تبادله يې پري کوله او يا خو په ځينو مواردو کي يې د خلاصون لپاره د هغه له کورنی څخه پيسي غوښتي، طالبانو دليل وړاندي کاوو چي خانګړی زندان نه لري، تر ډيره وخته بنديان نشي ساتلای.

## د افغان تکنوکراتانو زندانونه او مجازات

کله چې د ۲۰۱۴ ز. کال ولسمشریزو ټاکنو کمپاین وو، ډیرو افغان روشنفکرانو به ویل چې تکنوکراتان که واک ته ورسیږي، نو د فساد، اختلاس او بې عدالتیو سره به مبارزه ددوی لومړني اهداف وي، دا ډول سوله او امنیت به له هرڅه ورته مقدم وي.

ډاکټر اشرف غني چې د تکنو کراتانو ملاتړ یې دځان سره درلود، هغوی چې ځانو ته یې روشنفکران ویل، ورسره ملګري شول، د پخوانیو کمونسټانو ځینې مهمې ډلې هم ورسره ملاتړي شوې، د ډاکټر عبدالله سره یې سخته مقابله مخکې درلودله، داچې په لومړي ځل عبدالله د ګټونکي دعوه لرې، په مناسب وخت کې به یاونه ورڅخه وکړو، ولې دویم ځل ټاکني د اشرف غني په ګټه تمامي شوې، او له عبدالله سره یې ګډ حکومت جوړ کړ.

ډاکټر صاحب اشرف غني په ډیرو لومړیو ورځو کي د پلچرخي له زندان څخه لیدنه وکړه، طالبان یې هلته وترټل، او دمرګ د سزا ورکولو ګواښ یې ورته وکړ، له دې هاخوا د باګرام زندان چې د کرزي په وروستیو ورځو کې یې اداره افغان چاراواکو ته سپارل شوې وه، تر ډیره دغه زندان له بندیانو خالي شوی وو، بیاځې د باګرام تور زندان لاهم پاتې وو، غني بیاځل د باګرام زندان اداره ویل کیږي امریکایانو ته په واک کې ورکړه، او له پلچرخي څخه وخت په وخت زندانیان بیرته باګرام زندان ته انتقال او لا هم دغه لړی دوام لري، د غني حکومت کې له بندیانو سره د ناوړه چلند په اړه ویل کیږي چې په نظام کې د پخوانیو کمونسټانو د زیات واک له امله دی.

غني نور هم مخکې ولاړ د ملي شورا غړو ته یې په وینا کې وویل چې دی به هغه قاضیان ډیر په وطن او هیواد مین وګڼي چې طالب بندیانو ته د اعدام سزا ورکړي.

غني د روان کال د مئ میاشت کې د ۶ تنو بندیانو د اعدام حکم لاسلیک کړ، هغوی اعدام شول، ویل کیږي چې د شمال ټلوالي (د احمدشاه مسعود لارویانو) لخوا فشار وو چې دوه نور کسان انس حقاني او حافظ عبدالرشید هم باید اعدام شي.

طالبانو هم عکس العمل وښود، ځیني دولتي کسان یې اعدام کړل، ولې په وروستو کلونو کې لیدل شوې چې او په ځانګړې ډول د تکنوکراتو او پخوانیو مجاهدینو د ګډ حکومت پرمهال چې جوپې جوپې دولتي تسلیم شوې د ملي اردو او پولیسو کسان د طالبانو لخوا ازاد کړل شوې. او بده پیښه د اګست میاشتې پر ۲۵مه د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالي کې رامنځته شوه، د طالبانو پرمحلي زندان د امریکا بې پیلوټه الوتکې بمبارد وکړ چې په نتیجه کې یې ۱۷ د ملي اردو عسکر، ۶ پولیس ووژل شول، او درې نور زخمیان شول.

د غزني ولایت په مقر ولسوالي کې داسې پیښه هم لیدل شوې چې له بندي کس څخه لومړی دواړه لاسونه پرې شوې، بیا ورڅخه پښې پرې شوې، وروسته ورڅخه سترګې ایستل شوې او بیا وژل شوی.

په دې برخه کې دولت هیڅ ډول ځان مسؤل نه دې ګڼلی، بلکې اربکیانو ته پوره واک ورکول شوی، او اربکیان هغه څوک دي چې قانوني د پوښتنې او ګروېږنې کومه مرجع هم نشته چې هغوی له ناوړه کړنو څخه وګرځوي. پدې معنی چې موږ بیرته ۱۶ قرن ته د بندیانو د حقونو په برخه کې ګرځیدونکي یو. نظرمحمد مطمئن لیکوال او شنانند

پای